


# دشمن اصلي دوست وي

سعد الله جان برق

د چا

مشر د خُلې وېنا ده چې ژوند دومره کم دے چې د دوستانو هم نۀ رسي نو دښمنان به پکښې سړے څۀ وپالي. دا مشر هم لکه زمونږ د نورو مشرانو ډېر ساده ؤ. دغه مشران به اکثر د ډېوال خوا کښې پيتاوي ته ناست وو، پړي او خبرې دواړه به ئې غښتلې. د دغه مشر اصلي مطلب خو دا دے چې ژوند د مينې دپاره هم ډېر کم دے نو د کرکې دپاره پکښې ځائے د کومې راپېدا شي.

خو زما قصه څۀ بل شانې ده. زۀ د دوستانو په ځائے د دښمنانو افاديت زيات ګڼم. دغه وجه ده چې ټول عمر مې ځان له دښمنان پېدا کړي دي او په دې کار کښې اوس دومره لويه تجربه لرم چې ښۀ نه ښۀ دوست درله په يو ساعت کښې د بد نه بد دښمن کړم. دا خبره مې هسې د مثال په طور وکړه ګنې د دوستانو زۀ د سره قائل نۀ يم. کۀ هغه دننه دښمن وي نو بيا... د دوېم نمبر د دښمنانو نه ښه دا ده چې سړے اصلي او اول نمبر دښمن جوړ کړي. دغه مشر هم خبره صفا کړې نۀ ده ګنې د هغۀ هم دا مطلب ؤ چې دوستان د سړي ژوند دومره په عذاب کړي چې دښمن دپاره پکښې بېخي ځائے نۀ پېدا کېږي ځکه چې دوستان د دوست سره دومره مينه کوي چې د دښمن پېدا کولو کار هم په خپل لاس کښې واخلي بلکې هم په خپله د دوستۍ سره سره د دښمنۍ ذمه واري هم په سر واخلي. دې ته په پښتو کښې په يو ټکټ کښې دوه مزې وائي خو انګرېزان ورته ټو ان ون وائي. داسې ټو ان ون دوستان به اول ما ډېر ساتل، دوه مخيزه چاړۀ ډېر کار وباسي. خو بيا مې زړۀ له خيال راغے چې داسې ټو ان ون څيزونه اکثر معياري نۀ وي ځان له ځان له چې د دوست او دښمن کوم خوند دے هغه ډېر زيات وي. دا د دوستانو سره هم زياتے دے چې سړے پړې په يوه تنخوا کښې دوه دوه کاره کوي نو فېصله مې وکړه چې د ټو ان ون په ځائے به بيل بيل څيزونه ساتم. اول خو مې دا هڅه وکړه چې اصلي او ون پيس کښې دوست ملاؤ شي خو په بازار کښې مې چې تپوس وکړو نو يو واقف کار دکاندار راته ووې چې کومې کارخانې به دوستان په سنګل پيس کښې جوړول هغه پخوا بنده شوې ده او اوس په بازار کښې صرف نقلي مال ملاوېږي چې تۀ به ئې د خالص دوست په دوکه کښې واخلې او چې وې ګورې نو په هغۀ کښې به د دښمن پُرزې هم فټ شوي وي. بس د دې نه پس مې خالص دښمنان جوړول شروع کړل او دا وخت د خدائے فضل او د دوستانو دعا نه ربتيا د دوستانو خېر و برکت دے چې په دښمنانو کښې ښۀ خودکفيل يم بلکې راسره فالتو هم شته کۀ د بل چا پکار وي نو په مناسبه بيعه چې څومره دښمنان د چا پکار وي ورکولے شم.

دا خو راته اوس پته ولګېده چې د مالګې نه مرچکے ښۀ وي. د دښمنانو دومره برکتونه دي چې

لس دوستان یو ځائے شي نو هم دومره برکتونه ځان کښې نۀ شي پېدا کولے او کۀ چا د دښمنانو خوند واخستو نو زما یقین دے چې د دوستانو نوم به هم په خلۀ وانخلي. د دوست دښمن په معامله کښې فارسي وان زمونږ نه زیات هوښیار دي وائي چې:

دوست آن باشد که گیرد دستِ دوست

یعنې دوست هغه دے چې ستا لاس ونیسي یعنې چې تۀ چا سره په جنګ ئې او هغه دوست ستا لاس ونیسي چې دښمن دې ښۀ وډبوي. اصلي دوستي دې ته وائي ځکه چې دے ستا لاس ونیسي نو هغه بل کس چې ستا ورسره جنګ وي هغه به درله د پوزې دا ټټو یا د ډوډۍ خوړلو ژامنه ماته کړي نو یو به د تانې او پولیس د بې رحمه لاسونو په ځائے د هسپتال د ډاکټرانو همدردو پنجو ته ورشي، لس اتۀ ورځې به ښه په پسته بستره د ښکلو او ښائسته نرسانو د لاسه ستنې ووهي. بیا چې کله روغه کېږي د هسپتال د خرچې سره سره به لس شل زره کالداړې هم کور ته راوړي او دا صرف د دوست د برکته. کۀ هغۀ ستا لاس نۀ وې نیولے نو دغه پوزیشن به د هغه بل ؤ تانې او جرمانې به تا ورکولې په دې کښې هم خلق وائي د دوستانو افادیت شته.

هسې خو د دښمنانو ډېر برکتونه دي. دښمن درباندې هر وخت په دې ګرانه ګرانۍ کښې مېلمه کېږي نۀ. د غړپ کولو دپاره درنه قرض نۀ غواړي. په بیمارۍ کښې تپوس له او بیا د ډوډۍ او چایو سره مازغو خوړلو له نۀ راځي. ستا په لاس او کور کښې موجود هر څیز ئې پکار نۀ وي. غټه خبره دا ده چې دښمن به دې همېشه ویښ او بېدار ساتي، هر هر قدم به په خیال اخلې د ځان او د کور حفاظت نه به غفلت نۀ کوې، کار او ګټه به ډېره کوې چې دښمن پرې وپالې. نور ئې هم ډېر برکتونه دي.

هم دغه وجه ده چې قابل خلق او قابل ملکونه نور څۀ ساتي او کۀ نه خو دښمن ځان له خامخا ساتي. د کوم سړي یا ملک چې دښمن نۀ وي هغه هیڅ کښې نۀ وي. تاسو په خپله وګورئ چې د کومو ملکونو دښمنان شته نو د هغه ملکونو عوام څومره په فخر سره فوجونه ساتي، وسلې اخلي او جوړوي. عېش کوي دا جدا خبره ده چې اوس دښمن د سړي بې غېرته وي او حمله نۀ کوي نو فوج خو حرامه روزي نۀ خوري دې دپاره ئې هر وخت د قوم او ملک خدمت ته بېدې راښکلې وي او د بهرني دښمن په ځائے په کورني دښمن یلغارونه کوي. ورشئ امریکه وګورئ دا هم د دښمنانو او دښمنۍ برکت دے چې هر قسم طاقتوره وسله ساتل ضروري ګڼي.

دا خبره یو ډېر لوئے تجربه کار فلسفي کړې ده چې د عوامو دپاره دښمن دومره ضروري دے چې کۀ بهرنے دښمن ئې نۀ وي نو په ملک دننه دې د دښمن سازۍ کاروبار شروع کړي. دې دپاره هوښیار حکومتونه هر وخت د بهرني دښمن د نشت په صورت کښې خپل ځان د عوامو د دښمنۍ په منصب فائز کړي. ځکه چې عوامو دپاره ډوډۍ وغېره دومره ضروري نۀ وي لکه څومره چې ورله دښمن ضروري وي. د هوښیارو ملکونو عوام هم همېشه خپل ځان له دښمن په ډېره مینه او اخلاص ساتي.